سره ملو څخه ډک جام کړه | د یارانو ی انجام کړه
چه سوری بزم همی تود سی | د رنګ الوز غوږ و سرود سی
د جهان ویرو غم هیر کا | یو دم بند په عشرت تیر کا
په په مخ کی موبلیتو ن دی | لجهان سبا یون دی

دز

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذکر د الله تعالی پر رحم نو مرد وست محمد کاکړ علیه الرحمه      د بابر خان زوی و چه د
کاکړ بابا د زیارت د پاره پیکال سنه ۹۱۲ هجری ولاړ هرات ته او بیا چه راغی نو ب ته
پیکال سنه ۹۲۹ هجری ئی یو کتاب پښتو نظم کړ چه نوم ئی دی غرغښت نامه د اکتاب
چه ما ولیدی ئی شیرین بیتونه په مثنوی لری او د غرغښت بابا قدس الله سره الکریم
حکایات دی او د رښتینو خلقو روایات راجمع کړی دی دغه کتاب زما پلار
په لوه کښی مینه لی و او زه هم په کښهول کښی موکو چینوا او ز شیو په سبق لوست
دوست محمد علیه الرحمه پخپل کتاب کښلی دی چه زما پلار بابر خان هم یو کتاب مشعر
کښلی و چه نوم ئی و تذکرهٔ غرغښت هغه وقت چه بابر خان وفات سو او
زه پر کور نه وم نو هغه کتاب ورک سوی وا او چا ضایع کړی زه چه راغلم
د خپل پلار په ماتم سی ډیر خفه سوم ځکه چه کتاب ورک و ما نو د هغه کتاب
خبری اوریدلی او په واره واره ویلی وی او هم می یو څه له هغو تحفه پیاد وی
نو ما پر خدای توکل وکا او هغه قصی او روایات می بیا په شعر وویل خدای
تعالی جل شانه دی زما پلار سره مشکور کا      هسی وایی کښونکی دی
کتاب عفی الله عنه چه ما د غرغښت نامی تحفه د هغه حکایت را نقل کړی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## حکایت لہ عزعنبت نامی

لہ نیکا نو روایت دی | هسې تولګہ حکایت دی
نور محمد کاکړ راوی دی | چہ ئی فیض تل جاری دی
دنیکو نو لہ خولی وایی | چہ عنبت ئی راته ښایی
چہ کاکړ یو نیکہ زاہد و | لوی شخصیت لہ تل عابد و
تل تر تل سی عبادت کا | یر دی لیاری ریاضت کا
شپی ئی رنړی پہ لمانځہ وی | پہ ژړا و پہ نادو وی
ندی خوب ندی خوراک و | عبادت ئی تړونډ و زواک و
چہ بہ کښیوست پہ لمانځہ | یا بہ کښیووت پہ ستاینہ
ورځ ئی تولہ یقعدہ وہ | شپہ ئی ہم یوہ سجدہ وہ
تل ئی سیر دلاہوت کا | پہ یوہ گولہ ئی قوت کا
غرق بہ تل پہ ذکر اللہ و | ہر سبا او ہر بیگاہ و
یو دشپہ ئی عبادت کا | پر گناہ ئی ندامت کا

سرځ

(c) ketabton.com: The Digital Library



منزگی پښتې سوی له خوبه ... په شپو شپوی وو بیستر
هیې خوب ی و لید ګرانه ... په خوږ غښت ښنې ښنها نه
وایي ای کاکړه و به ... لتا خوښ یمه ښکلې یه
ستا قدم زما پر سر ردی ... ماسوا کښې دی قرار دی
پېښه ووسځ دده لمانځه ... د ښښنې عبادت کړه
وی پاته لتا نور دی ... شپې اوورځې د پکور دی
چه جهاد د کړه پرتا فرض دی ... دایم ستا د غاړې قرض دی
یوه ورځ جهاد افضل ... نزملو کلو لمانځل
څوک چه تل لمنځ و روژه کا ... په جهاد بدی پوره کا
طمری شره د دین همداوی ... بیا خدمت د خلق اهد دی
لتا پاته دواړه د نیه ... ځان خبر کړه بند له د نیه
توره واخله مجاهد شه ... د لوی خدای د دین قاصد شه
د خدای نور پر جهان خور کړه ... دا خدمت ی پخان پور کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه د بشپړ عبادت سي | خان د خلاص له معصیت ی
چه له خوبه ویښ کا کړ سو | د غزا پر خوا نوموړ سو
زغره خول ی آراسته کړل | د غزا عشق تیره کړل
هرات خواته په تلو تلو سو | د سلطان غیاث ملو سو
ویکړه هوری جهاد ون | د سلطان مل شو پهلون
څو هوری تر دنیا تیر سو | د غازیانو پېتول شمیر سو
چه ی هلته هم وفات سو | ښخ پیخاور و د هرات سو

میړه هسی ځوندون کاندی
مری د خدای پر رضا باندی

ذکر د محبوب سبحان عبد الرحمان علیه الرحمه — محمد رسول هوتک علیه الرحمه

مجمل بیاض کښ هسی کښلی دی چه عبد الرحمان بابا په قوم مهمند و او په پېښوری ځوندون کا پلار ی عبد الستار نومیدی او په بهادر کلی ی دیره وه عبد الرحمان بابا په سنه ۱۰۴۲ هجری پیدا سو او له ملا محمد یوسف یوسفزی څخه ی لوست

(c) ketabton.com: The Digital Library


وکا او له مخه تحصیلی فقه او تصوف زده کړل او بیا ولاړ کوهات ته هلته یې هم
سبقونه ولوستل او بیا عالم سو په ځوانۍ یې دنیا پرېښوله او اکثر به یې عمر وګرځېدی
او ګلو به ولاړ د هندوستان پر خوا او د خدای عبادت به یې کاوه دنیا یې کار و به نه
مشغول کېدی عبد الرحمن بابا یو عالم رباني او عابد سړی و او ډېر شعرونه یې د خدای تعالی
جل جلاله په محبت کښې ووېل او په پښتو کښې په رحمان بابا مشهور سو په سنه ۱۱۱۸ هجری
وفات سو خلق یې تر اوس د پېښور په هدیره کښې زیارتونه کا او دده شعرونه لولي
د رحمان بابا د بیتو او غزلو دیوان ستندا ډېر ډېر پیدا کیږي هسې وایي فقیر محمد
هوتک غفر الله ذنوبه چه ظل الله پادشاه جهان شاه حسین کاتبان واستول او
له پېښوري د عبد الرحمن بابا علیه الرحمه د دیوان نقلونه راوړل او په قندهار
کښې علما او زاهدو وکتل او اوس ډېر دي فقرا او د خدای دوستان د عبد الرحمن با
شعرونه ډېر لولي او خوښوي او عام خلق فالونه پر ګوري حتی چه ښځېنې هم دا
کتاب ډېر وایي او خدای تعالی دده په دنیا کښې هسې برکت ایښی دی چه د هر خوږ من
زړه دار وېده کا او هر غریب او محتاج مستغني کا زما پلار هسې نقل کا چه په
قندهار کښې د رافضي ګرګین خان جور و ستم تر حد تېر وکا او خلق د خدای هسې ځني

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه داب سول چه سپرگ خو بن سول نو دوی په کوکران کښې مغفور رحمانی برگزیده صمدانی
حاجی میر خان هو تک سنبالم خیل ته ورلا سړل او له هغه دی چاره د کار طلب کړل او لتو لو
اویل سر د ول پیره دی او دغه هغه کړی هغه مغفور ریوه ورځ تر ما بنا مه ده لوزو پښتنو
خانانو او مشرانو سره مصلحت وکا او هسی ی تړون وکا چه ظالمان مړه کړی او خانونه
لجور د ظلم وژغوری په پای کښې حاجی میر خان علیه الرحمه دویل راسی چه عبد الرحمان
بابا قدس سره هم ویو بنتو چه د ده دیوان ی خوص کاسی مشورونه و بیت

| | |
|---|---|
| زه مکتوب غندی په پټه خوله گویا یم | خاموشی خاتیری کا تر غوغا خا |
| کښت د عشق په تو ده زمکه امان چری | سمندر بوبه چه ژیت کا پهرا خا |

د غه جیتونه ی ولوستل هغه مغفور حاجی اولس ته دویل چه د ظالمانو کار تمام دی
ما اوس د ستی خاموشی بهتره ده لتوله به په پټه خوله داکو بښې کړو چه ظالمان
ر کسی چه مناسب وقت راسی نو به زه پرتاسی ابنځ وکړم هغه وقت باید توله تیاریو
وظالمان له وطن و باسو نقل کا چه یوه میاشت وروسته جنت مکان حاجی میرخان
د اولس میران او خانان راوبلل او په مابخدی جرگه وکړله او لتولو بقرآن قسم
وکا چه دگرگین خان ظالم له جوره ځانونه خلاص کړی په دی وقت بیا حاجی

(c) ketabton.com: The Digital Library



میرخان مغفور له رحمان بابا تحفه دا بیتونه ور لیږل — بیت

پہ اسمان ئې رخ بیت کړی پیساب و | خدای وما وته ښکاره کړی بغدمر
چہ رقیب راته تېرلی پر نخچیر و | نو په حبیب را باندی پرانت بیا
پو حال ی منت بار اوس رحمان | په صدقت کښی د خل نښته د لو بیا

نقل کا چه د خدای په قدرت د غه ورخ پر اسمان اوریځ هم وه چه حاجی میر مرحوم
دا بیت ولوست سمدستی کړی ښکاره سوا وریځ ی لرې بستد سوه خلقو هم دغه
یو الهی مدد وکا نه اوبیا نو جنت مکان حاجی میرخان خاتمه وویل دادی د
خدای تعالی مهر او لطف هم زموږ ملګری دی اوس نو وقت دی چه توری نه تکیه
وکا او تا نو ترن له د نجمن دژغورو سمدوچه په ۲۹ د ذیقعده الحرام ۱۱۱۹
هجری اوس قتل سول او د جنت مکان حاجی میر مرد په قند هار ورسته تل
د نجمان ی قتل مرد کړل اوس په تو کاتب الحروف عفا الله نو به د عبدالرحمان
بابا شعرونه را نقل کا

غزل

زه دا هسی دیوانه د مجنون چا کړم | له رواج له رسوم بیرون چا کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو بیا هم چه د اجاړی پیما ترک شه | لیونی د خپل شاه په افسون بیا لرم
لومړی سترګی توم ما ته لو مد غمزه د د | ډوب هسی شندی پخاک په خون بیا لرم
توکل توفیق نو د فتنو را تخیز ند و | په فتنو د روستر ګو مفتون بیا لرم

رحمان هیڅ لیکلی نه شانه خبر نه شوم
په داسی نه زبون او محزون بیا لرم

ذکر د شیخ الصالح محمد صالح رحمة الله علیه — سبی وایی کاتب د دی کتاب محمد چه ملا الله یار الوزی په تحفة صالح لیکلی دی چه شیخ محمد صالح بقوم الکوزی و په حلقه کښی او سیدی او عابد او عالم و چه وقت کی ئی تیر اوه او د خلق ارشادی کا نقل دی چه شاد بیګ خان د قندهار صوبه دار شیخ محمد صالح د غوښت چه کابل ته ولاړ سی او هلته حلقه ته فیض ورکړی او په تدریس د علومو طالبانو ته هدایت وما شیخ محمد صالح ورته وکښل چه ما الله طمع د عزت نشته او په دنیا پسی نه نغواړم زما داسی مقصد دی چه دنیا ما ته راسی نه چه زه ولاړ سم دنیا پسی که زما عزت غواړی ما پریږده او په دنیا پسی می مه مسافر کوه چه د غه خط ورسید شاه بیګ خان ډیر ووېل زما هم ستا عزت مقصود و نه بل غرض سبی وایی محمد

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ملا الله یار د حضرت شیخ پیامد دکینې کتاب په تحفهٔ صالح ی نوم د پښتو کتاب کښې
د حضرت شیخ علیه الرحمه احوال او ضری وکښلی او دده د اشعار ی یکښې ضبط کړل په دغه
تحفه دا غزل دی په شاه بیک تذکره کښلی

## غزل الشیخ محمد صالح

دیلي دیني فیض هر سبا ودرم
بېهوده منت د ولی د دوز چا درم
په اشنای دښمي ناشاده پلاس کښېوت
روبان زړه یکوځل پتمل پیما درم
هر دنیا لدغځ ت څوک د دنیا کي
زه د عشق پبا زار جار دعشق سودا درم
دیلي لیدل درب په مهانکی
خزانی کړ ددي مل جهان پښا درم
کر پر تخت ی د سلیمان سپور کړی کمری
عاقبت خاورو ته بند عمل بېښوا درم

بیلار عشق د خوشحالي پر ما حرام
زه صالح کر په خولد خوبن پېزړه ژړا درم

## غزل وله ایضاً رحمه الله

په پېزړه ی غښتي څرخ سی د چښتمانو
روغ بانسې پدارو د منصوبیانو
په لوبزن لرنځهٔ خلاص پېزړه رنځوروی
داد زړه دارو بو د نکره حکیمانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مګر بعد چه حبیب دی هم طبیب دی | کارسازی ئې د خوارانو رنځورانو
هیڅ اثر ابا ندي نکاندې عالمه | ښه وېل در و ګوهر د ناصحانو
نصیحت زړه خوارې رېږ نسته لو خوړک | زړه مې وړي په منګولو خوبرویانو

که صالح ښندي د زړه په وینو پایي
نور دولت پر دنیا نشته طالبانو

ذکر د مقبول ربانی علی سرور قدس سره الولی په تحفه صالح کښې هسې راوړي چه شیخ علی سرور شاهو خیل لودي وو چه د هندوستان پښتانو کې دیره واو خاوند د کراماتو او خوارق وو چه خلق به هر کله ځنې لیدل په مخزن افغانی کښې هم نعمت الله هسې وایي چه شیخ لوی لوی کرامات ښکاره کړل او خلق به دګرد هیدل په تحفه صالح کې راوړي چه شیخ بخپلو مریدانو ته هدایت کا او وعظونه او د سوالونو ځوابونه به ئې وېل او د تصوف مشکلات به ئې حل کول یوه ورځ ئې سوال ځنې وسو چه پس ترا هر لحظه مرګی رجعتی است مصطفی فرمود دنیا ساعتی است څه مقصد لري زموږ مرګ و رجعت کله دایم او مستمر دی او که دا مرګ و رجعت دایم او مستمر وي نو به حیات متجدد امثالت متعدد سي او د تناسخیانو عقیده به سي بیا عارف ربانی هسې ځواب ورکا

په

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه ذات ماسوا دی له بلند ذات دا سماء ثابت دی او بدن متحلل دی بیشی وایی أَنتَ أَنتَ لا يَبلى لَكَ فَإِنَّ بَدَنَكَ فِي التَّحَلُّلِ وَلَيسَ عِندَكَ مِنهُ خَبَرٌ فَأَنتَ وَراءَهُ دا شیا دغه مرگ و رجعت بدنی دی نه ذاتی او هر کله چه تحلل و موند سابقه ذرا تو نوی پر ځای دی دی لاحقه ذرات او همدغه تجدد دی په دنیا عدم تحقق ثابتوی او همدغه چه مصطفی علیه السلام وویل اَلدُّنيَا سَاعَةٌ رشتیا کوی په تحقه صالح کبن د عارف ربانی علی سرور لودی اشخاص دی په دا غزل ځنی را اخلم

## غزل لعارف الربانی

محبت پیاله می نوش کړه بیجا زکی | دحق نور و بینم پس نو دا یاز کی
در ست وطن راته دریاب شو بی دیدن | دید می منشی مگر خدای می سبب ساز کی
که زه می شم هم للوړ کړم سر پور ته | ناګهان چه می دلبر پورته آواز کی
لا می سر غوڅ ه د رقیب په تیره تیغ ه‌ | هم به ځم که ما دلبر غوښتنه په نهر دناز کی
زه و یار ملا ما ناست وی ولد بله | پر غمازد باری کا بنی د غم ساز کی
ګران بلیلون به د سخو مینو ویند | چه تل ناست وی په زیارت کی سره زار کی

ای سرور غمازان شوه بی حساب
پاک الله د صورت نقش بی مغز پیاز کی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوهم خزانه په بیان د پښتو شاعرانو چه زموږ معاصرین دي غفرالله لهم

ذکر د اشنای بزم ګران ملا باز توخی ملا باز توخی په الغزکښې اوسی او په اصناف د اشعارو کښې استاد دی غزل او رباعي وایي او د شاعرانو انبار دی او زما په محمد هوتک یم همراز دی ملا چه قندهار ته راسی زموږ مجلس پیتو دوی او یاران دده له لطافت د طبع ممنون ملا باز مبادی د علومو لوستي او په فقه شریف کښې تیار دی له منطق او حکمت لولی او خپلو شاګردانو ته درس ورکوی د محمد په ابتدا د ځوانۍ تللی و او پښتو د ښتان ی له استادانو لوست کړی

لطیفه

ملا له ملاته ملا باز راغی او په قندهار کښې زما میلمه سو دستی ما چرګ حلال کا او طعام می تیار په دسترخوان راغی ملا باز سبی شعر و وایه

شعر

| | |
|---|---|
| پر لوړ و دی ګرځی | د باز بر ضه یو چیچی دی |
| د باز ښکار ږوی د مرغتو | او سی می بس با پینکی وړی دی |

ما ژر جغه سیږي دی هم حلال کا او د میلمه میلمستیا تر می پوخ کا دا هم له

ده په ملو څخه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بدله

راسه پر څنګ راسه لیلی تر می نژدې سه لدل ... بیمدنرځی چه می وند نجمی پچو به زړه نګوی

راسه پر څنګ راسه لیلی ولی لماکړی بلیتون ... د استا لعمد نه زړګی دی پسر د وینو کلګون

که هر څو تښتم نه پریږدی می ستا د عشق شو انحون ... زه نخلاصیږم لعنا زیدلیږد نه پتیں

راسه پر څنګ راسه لیلی چه دی پر زړه کم ملهم ... د استا په عشق کی می ترشا کا د دنیا داره غم

حساب کتاب مجالس می واړه کا ستا مینی برهم ... لا ر و ر ز ر نسته چه د کښینوم درڅو یکو ګل

راسه پر څنګ راسه لیلی چه دی پر زړه کم یوری ... کجل د روانخلد واری سترګی بدژدهم تری

لیدل به ستا د مخ کوم اندیښنی نکم یوری ... پکار می ندی ستا بی مخ د جنت زیری ګل

راسه پر څنګ راسه لیلی چه سره وکړو خوالد ... پر تا مین یم بی له تا می نشته هیڅ اندیښنه

زه د غره باز د هم نا بندی کړمه قفس کی پر ځند

یو وار می خلاص که چه بیا زده کړم دوز خیر و ل

ذکر د افضل السلاطین ظل الله فی العالمین شاه حسین لازال ظلال سلطنته من مفا
المسلمین پادشاه جمجاه ظل الله شاه حسین بالم خیل مرتان د مغفور جنت مکان حاجی
میرخان زوی دی چه اوس هم اسی کښی پادشاهی د اوښتانه ی پیوری آ
پادشاه عالم پناه په ۵ په ۲۳ د ربیع الاول په سنه ۱۱۲۴ هجری پیری کښی د کلات

پیدا سو هغه وقت حاجی میرخان د بیت الله او د اصفهان سفر وکا پادشاه ظل الله کوچنی و
او له اعلم علما ملا یار محمد هوتک ځخه ئی درس ولوست او تر دوولسو علو پوری د عمری
د فقه او تفسیر او منطق او د بلاغت کتب ولوستل او په قندهار کی له ډیلاری مصالح
د امور نزده کړل او په جنت مکان حاجی میرخان په ۲۸ د ذیحجة الحرام سنه ۱۱۲۷
هجری په قندهار کښی وفات سو پادشاه ظل الله ثور لس کلن و او د خپل مشر ورور شاه محمود
خان سره و میر عبدالعزیز چه د حاجی میرخان ورور و پسله مرگ د ورور په قندهار کښی
مشر سو خو داوس رعایت ئی کم کا ځو په سنه ۱۱۲۹ هجری د شپی د ناریخ له قصر له
بام خطا سو او راولوید مړ سو د خپل عم تر مرگ وروسته میر محمود په قندهار کښی
پادشاه سو او د سیستان او کرمان پر خوای لښکر وکا په سنه ۱۱۳۵ هجری چه د
اصفهان د ضبط د پاره ولاړ په قندهار کښی خپل ورور پادشاه ظل الله شاه حسین پادشاه
کا او د قندهار او فراه پادشاهی تر غزنی شاه حسین ته ور کړله او د لعه لو غلجو ملکانو او
خانانو او مشرانو شاه حسین په خپله پادشاهی ومانه او خطبه او سکه ئی په نامه مبارک
جاری سوه شاه حسین ادام الله دولته ډیر زور او مشهور پادشاه دی د رعایا
په دادرسی او د دادخواهانو فریاد اوری د ظالمانو لاس کوتاه دی او رعیت آرام دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پادشاه عالم پناه دربار کښې تل علما او صالحان لاړلي افضل العلما ملا یار محمد هوتک
چه د پادشاه استاد دی لوی عالم دی په فقه کښې ی کتاب مسایل ارکان خمسه کښلی
دی بل لوی عالم د دی عصر چه د پادشاه ظل الله تر ظل لاندی ژوند کا د قندهار د جامع
امام ملا محمد یونس توخی دی چه د ملا محمد اکبر فرزند دی او د علومو تدریس کا او کتاب
د جامع فرایض ی کښلی دی په پښتو او بل عالم جامع الکمال ملا زعفران ترکی دی چه
مدار المهام او صدر الافاضل دی او د پادشاه ظل الله کین لاس دی او د محمد چه د
پادشاه زوی دی استاد هم دی ملا زعفران په حکمت او ریاضی او طب کښې استاد دی
او ګډه ستد زعفرانی ی په حکمت او طب کښې کښلی ده دا کتاب ما هم لیدلی دی او مطالعه کړه
پادشاه ظل الله شاه حسین په څنګ کښې مړینی دی او په ښو لو د ځما لکو کښې ګرندی د
غلجو طوایفو ترغزنی پوری د ده پادشاهی ده او په ابدالیو کی تر سیستانه او هرات
حکم کا په ۱۱۳۸ سنه هجری شاه حسین لښکر د کا او د بهادر خان په سالاری ی
د شال او بوری ولایت فتح کا او په کال ۱۱۳۹ سنه په څلور پادشاه ظل الله تر
ډیره جات فتح کړل او تر ګومل ی ضبط کړل او س په دغو ټولو ځایو کښې د ده سکه چه
ده او حکم ی ساری پادشاه عالم پناه په دارګه کښې د قندهار سخه قصر چه تاریخ با...

(c) ketabton.com: The Digital Library


بلند تیږه په ورځ دربار کا پکتب خانه کښی او په مجلس کښی علما جمع کیږی او شعرا او فضلا لیتو لوی زه محمد هوتک کاتب د دی کتاب هم په دی مجلس کی یم او پادشاه ظل الله اشعار او ابیات پښتو کا او هم او کتاب د دیوان ی مرتب سوی دی کله په پښتو اشعار وایی او کله فارسی نثر هم میل کا او ~~کتاب د دیوان~~ استاد العلما ملایار محمد قندی قرات کا په سهو سقم ی زایل کا او د پادشاه په اشعار وکښی لږ سهو لیده شی او علمای لیتول په بلاغت او فصاحت قایل دی او سماع ته مایل هسی وایی محمد کاتب د دی کتاب چه یوه ورځ د پادشاه ظل الله په قصر کښی مجلس و او فضلا او علما سره راټول ناګاه احوال راسو چه قاصد راغلی دی او پیغام ی لیری چه ای راوړی ملا زعفران د بانډی د ورانی یو ګری پس بیرته مجلس ته راغی او زیری د فتح د شال او د بوب ی وکا او دا بیتونه ی عرض کړل

بیت

| | |
|---|---|
| صین پادشاه د ستاسی ندا د کوری<br>دا زیری ی راوړی دی حضور ته | چه ی فتح په بنګرو بوب و شال کا<br>نو زعفران انعام بر سر زعفرانی شال کا |

شاه عالم پناه تر زعفرانی شال ورکا او په دغه مجلس ی لیتول حاضرینو ته شالونه وښندل او پادشاه په انعام سرلبند سول هسی وایی محمد کاتب د دی کتاب چه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پادشاه جهان پناه اشعار ډیر دی او دیوان د دل خوږ دی دلته یو غزل نقل کوم چه د
مجموعه د کلام امول معلوم کلام خان خوښ

## غزل شاه حسین دامت سلطنته

بلیاندی د غمو پیچاو مجبور کړی یم
په تیارو کی د هجران ی تا دور کړم

بیلیاندی می ښئ او شکلی د خپری کړی
ستا د فکر په گرداب کښی تل عبور کړم

د فراق پیری می مبعوث و مری تر
په جهان کښی رسوا که منصور کړم

د وصال دی ایام نا یاد یم د دهری
د بلیو فکر په زړه کښی ناصبور کړم

د باهو عشق می خوږ پیچگر کښی
غمازانو په غمزو نظرو مجبور کړم

خلق یاد زما د عشق په لیونو کا
زه حسین محبت هسی مشهور کړم

ذکر د شاعر شیوا بیان محمد یونس خان — سی روایت کار زما تر بو رحمت منوک
چه په سنه ۱۱۳۰ هجری پیښور ته نقل وسم ، هلته می پخپیر کښی محمد یونس خان شاعر
شیوا بیان ولید او د ده اشعار می سماع کړل محمد یونس په د غند ... لیو یرش ... تو ان و
او په قوم موسی خیل و چه پلار ئی نور محمد خان له موسی خیلو شیو نه دکسی دا بیه سرداد علم

وه پېښور کښې اوسېده د محمد یونس په پېښور کښې علمونه اوکتل او ونه لوستل او په هغه وقت چه عبدالرحمان بابا ژوندی وو د هغه شاګرد سو او د شعر دیوان ئې جوړ کا چه ډېر ښکلی دی. د پېښور کښې معروف سو محمد یونس مهمان دوست او کریم سړی دی مسافرین ئې په کښې پرېږده ډېره اوسي او کړ خوټول عالم او ښاغر ده کړه وړه ئې ډېر قدر ئې کا او په عزت داری او میلمه نوازی کښې همت کا رحمت هوتک حکایت کا چه محمد یونس په ځینو ورځو کښې ډېر باقدر کریم او ډېره ورځ ئې ماته وېل چه یو ورځ ښه ډوډۍ ... ونه په ... ئې زما عزت وکا او ډېره ورځ ئې د اشعارو ... ل د هغه دوه غزل رحمت دده له دیوان ماته راوړل چه په دې کتاب کښې ئې بت ... خدای تعالی د محمد یونس خان ژوندی او معزز و لری

## غزل

| | |
|---|---|
| ... ذو ... بېښه باندې سر چا | کله به ما مونده شیرین وصل د دلبر چا |
| ... بت ئې شاته حسن روزی شوی | په دا حسن بلیه شمس و قمر ... |
| ... پلډه مې ځیل مهر رهبر شوی | را کاوه به د دلبر د نور خبر چا |
| ... استاد ز نفو بوی تر مشام شوی | دوباره به یاد دوال مشکو عنبر چا |

(c) ketabton.com: The Digital Library



پو وصال لیس خو نه به نسترگو وویې | په آسمان ځل بیا سوند لمر چیا
بیا بیسته لیلی به منمومې پکور بش | څو جدا له مجنون نشي له بر یا
جدایي بې حق ورته ځ له کله پیره | چه تو شلی د وصال شمه د شمر چیا

ولرم تدی کار وسپاره یونس
مقصود د هغه دی مینه لی په هنر چیا

غزل وله ایضاً الطاف اسد عمر

شیرین یار ځکه د دوا په سترلو تود دی | چه نه نور د ستر لو نه بد لور دی
په دنیا کښ چه بنیاد د اشنایی ده | بی هغه د جدایی په وزی په ور
واویلا د عاشق له پیره مسحره | لیونی عاشق ایزار ته پیدا ور دی
که بیدرد تنا نظر زبان د کوم دی | تنا د حسن خبر ملی لور لیو دی
د محنت جوری د دروند و باندی کښیښنو | خوار عاشق تر درانه بار باندی شمو دی
بادی بیم د نخه و اورد ته نرمیږی | هغه څوک چه ستا د عشق پر برق سوزی
چه د عشق څراغ ی نوی بکوګل کښ | هغه به له مرده لوی ګور دی

زه یونس چه ستا په مینه کښ رسوا شوم
اوس په بیا ته جار واته راته بیغور دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## معیاته بانم یوسف

څو چې نیم شپې [illegible] [illegible] دیونس غمگی [illegible] حرام شد

د [illegible] سر [illegible] محمد گل مسعود یې روایت کا رحمت بوتله چې په دوران

د سفر [illegible] محمد [illegible] مسعود زوی محمد د ویل سوچه پوه شا [illegible] او سر

[illegible] بدی ویلی او د یوه بدله د دوو ځوی رحمت تر بوره راغلی کا چه ولاړی کا به

### بدله

چې [illegible] په نیمه شپه [illegible] بیل شو | اور [illegible] بل شو

[illegible] زوی غم لمانځه [illegible] بل شو | اور باندې بل شو

[illegible] [illegible] | سوی په اور [illegible]

د بیته [illegible] سورا [illegible] مرض [illegible] شو | اور باندې بل شو

[illegible] بنایست [illegible] | وریت دی باد [illegible]

د اسې [illegible] تا پور [illegible] غمل شو | اور باندې بل شو

[illegible] خدا [illegible] محمد گل [illegible] | تا [illegible] تل [illegible]

[illegible] په او [illegible] الله [illegible] شو | اور باندې بل شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ذکر د شعر الزمان عبدالقادر خان ختک    چه د خوشحال خان ختک زوی دی نواب محمد افضل په
هسی روایت کا چه د خوشحال خان ختک تر مرگ پس عبدالقادر خان په سنه ۱۱۰۳ هجری کابل ته
لیږل شوی و چه د جهلو د قوم محمد الابل تدراغلی او دغا رواخلو د تیراه لو خړی ی و بلکښ
پرخوا کولی وای چه عبدالقادر خان ختک او کرندی خان و د خوشحال خان ی تابع وو او د دوی
تر ... په سنه ۱۰۶۲ هجری ۲۳ د جمادی الثانی واقع شوی و اوس چه د غه کتاب لوم ما ته
نه دی ښکاره چه دا افغان به وفات شوی وی لدینه خو هسی ښکاري چه وفات سوی بوی خدای چه
اوس ی چا د ژوندانه خبر ندی راکړی لدیه معلومیږی خدای دی د جنت سیی وامی په
عبدالقادر خان په هندوستان کښی هم عمروند تیر کړه او ملته په نقشبندیه طریقت کښی د
سو متعبد او پارسا سړی و پیچانی ومشر توب کښی انصاف کا او د خدای به ی ترس ل
عبدالقادر خان د شعر دیوان لری او د یوسف او زلیخا قصه ی په سنه ۱۱۱۲ هجری نظم
تصنیف نامه ی هم په پښتو کښلی او د شیخ مصلح الدین سعدی گلستان ی په پښتو راوړی
په سنه ۱۱۱۵ ی یو بل کتاب نظم کا چه نوم ی دی حدیقه ختک د غه کتاب ما په سنه ۱۱۳۰
هجری له صدر الزمان بهادر خان و بید چه د مولف په لاس خط و بهادر خان دامت شوکه
هسی روایت کا چه په دیره ما د غه کتاب وموند چه دیو ختک بخپل کښی و نقل کا
چه عبدالقادر خان له طریقت نقشبندیه کښی خلیفه هم او د پیر خلافت ی کا او د هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



رشادی کا شیخ رحمانی سعدی لاهوری پخلا فت تاکلی و د عبدالقادر خان شوروند دیر
دی نواب محمد انور د ده سلی غزلوند لکابل راوړل اوس زه دلته لحد یقه ختک تحفه دده
یو څو شوروند نقل کا ندم

## غزل

دریغ لوز غموند لیری شولد د ل | یکښی غم د خیل اشنا وی تل تل
شبنم وصل د ګل یا موندہ خاموش شو | تری محروم شوه په شور کا ندی بلبل
بند په زبه د قلم شوه په مجلس کښی | شمع تا په د خپل سوز قصد وی
عاشق هیڅ ندو خبر د مشق لسوز | د البنه یری معشوقی ولګول
فانوس په پرده څراغ عدد پټیږی | کری مخ په پلو پټ و ما لیدل
یا تسم د پروانه په څی ګان وسو | شمع او ریه تنذی بل کړ ګرزیدل

درستد شیدد پیار و عبد القادر کی
قد بی غمه یه یا لک باندی تحمل

## غزل ولد ایضاً

شد خوش د پادشاهی تخت ختلو | همیشدی غم کوه د پر یو تلو
هر می اوس کړی پیغلو وری ردی | غافل مشد د دیو سترګو د وتلو
پیشدی همیشه دل آزاری وی | د غو محزن نوی د کتلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



خندنی کړی په زر دوزو جامو کبر | چه غاړی یې د حق د ا سب
داجل د سوره تاحت نا ابهانی دی | چه هیڅ کو نه تمیزی سو

هغه زړه عبدالله در چه مرده وی
یکو کل د ننه نه دی د سا تلو

ومن رباعیاته

وقت دخزان و ومې لیدلې | یو څو بلبلې چه ترې پر لې
خوارې خستروی ویمې تړای | چه بې ګلونو و یا ئیب تړ

ذکر د صدر الاکابر دوران بهادر خان ادام الله بقاه پدی دوران یقینه مشهور دی په بهادری او توریالیوالی معروف د پادشاه ظل الله ... او دبنګروسا دشال او د وب کلاوی یې فتح کا او دیری یې ضبط کا د بری سمندی یې خواتر بیده کا هغه خای اخلی او بری یې لا ازل په سرحد دی یقینه پر کښی تمام خلق بیری او محتاجان او فقراء یې په کرم او سخاوت تاپره دی د جود لاس یې زر بخش دی هر کله د غریبانو دستګیری کا پادشاه عالم پناه د شاه حسین یې په خطاب کا او عوام یې په امیر الامرا یادکا خان عالیشان په علوم کښی عالم دی او په اشعار بی نظیر شعرا او علماء په لاس د کرم پالی او هیڅکله یې مجلس له لطیفو خالی نه کړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



عملدبنی په دوران طاق دی او پابند نه په علما، تد حاتم دی چه لسوڅ راضی علماء او شوا سیلمه کا او دوی تد بند نی وه خالق تعالی د داکریم دوران او حاتم زمان تر ډیره ژوندی، ساتی آمین یارب العالمین بسی وایی کاتب الحروف محمد هوتک عفر الله ذنوبه وستر عیوبه چه خان عالی مکان دوی کتاب دپاره لیکلو اشعارو مانه نیوه بدلدراکه چه د نقدی غنت کوم چه کتاب لد ذکر خیر دوی حاتم زمان خالی نوی او هر څوک چه وی ولولی د عاقبه وکا هغه بدلد داده

بدلد

بیلتون د زور دی تر لیمو می سهار سم څاڅی | لکه شبنم څاڅی

دا مرو یاقوت می یلمن کښ ستا په غم څاڅی | په غم الهم څاڅی

گورد لیلی باران داو بنوستا په چم څاڅی | څڅکه پر چم څاڅی

راغلد لیلی په شینکی خال څڅا په گلو کوی | په سرو ښګلو کوی

سهار چه وزی سیل کا باغ په بلبلو کوی | گل په اوربلو کوی

ملالی سترګی ی کا قد په وېر ژړلو کوی | زیب په کجلو کوی

دژوبل دزړه وینې په هر ګړی هر دم څاڅی | لکه شبنم څاڅی

منګلی نجلی د باغ یلو ر محمد نڅا مه کوه | عاشق رسوا مکوه

وریت سوی زړه می دی مین پوری خندا مکوه | راشه جفا مکوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه یم پتنګ تري ډېوه ما جلبلا مه کوه | نورظلم بیا مه کوه
یم ستا د عشق لیونی پر ما ما تم شا ځې | غم او الم شا ځې

ذکر د شاعر حقیق ملا محمد صدیق پوپلزی

په ارغسان کې اوسی د یار محمد پوپلزي زوی دی او د دې زمانې ځوان شاعر دی په عمر درویشت کلن دی صرف و نحوی پر ملا محمد نور برېڅ ویلي دی په فقه او منطق هم پوهیږی کله چه قندهار ته راسی کاتب الحروف ئی وینی او مجلس ورسره کا عشق ځوان دی او زړه یې لدلاسه ایستلی یځیل محبوب لیسی ژاړي زاري کا ګریاني کا در دمن زړه لري او سترګی داوښکو ډکې لري مینې هسې په ادرسوی دی چه لکوره کملي ورکـ وی سوزناکی بدبی لولی او کله چه د ډ رندا نو په ډله کښېنی مجلس ژړوی او محجمن زړونه یځیلو نارو غلبلو سوځي زمانه د ده پر ځوانی افسوس ښه کا او عشق ئی جنون ته رسیدلی دی بالبداهه اشعار وایی او د زړه درد په سوده کوی یوه ورځ د کاتب الحروف پلو ر کښېنو او ما ئی د حال پوښتنه کوله د زړه یځو اله کښېوت ژړل ئی او دا بدله ئی بالبداهه وویله

بدله

لکه بلبل چه بېلېد ګل د یل ارمان نلری | هسې یې یاده بلد هېلید عاشقان نلری
چه ژړا کاندم بېلتیاره یل مطلب نلرم | چه هسې سو ریمه په یو یل سبب نلرم

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې یاره نور څه نغواړم هم نور مطلب نلرم — په څوک مین سي بې له یاره بل ارمان نلري
تر تا په ځان قربانوم دا ای نیازمنده یار — تل دې څموند ګلو مدا ای نیازمنده یار
لسترګو ادېښې توتیو مدا ای نیازمنده یار — زړه مې بې تا په یو ساعت د صبر او توان نلري
که ته مې وژنې که پرېږدې اختیار خو تا لره دی — غم د پیدا ئندې بلچا لره خاص ما لره دی
زړه له دراغلی دی میلمه سبا بېګا لره دی — دزړه لکور څخه تنګ په هیڅ هیڅ شان نلري

ذکر د برګزیده سبحانی ملا پیر محمد میاجي ملا پیر محمد هوتک د ملا سرور مغفور

زوی دی چه ملا سرور له میا فقیر الله صاحب څخه استفاضه کړې ده او ملا پیر محمد لخلد
بیلار[۱] عنیض و موند د علیین مکان حاجي میرخان سره پېژګوینې ملګری وه د شاه ظل الله
ورور شاه محمود ادام الله دولتهم اصفهان ته ولاړ ملا پیر محمد هم ئې ملګری و خو بخت
اولد الانفاس میمون ئې استفاده کا او خلق د خدای شریعت او د امام اعظم صاحب
مذهب ته رابولي نقل کا چه په اصفهان کښې میاجي صاحب له روافضو سره مباحثې کا
او په دلایلو علمي دوی ملامت کا لکه چه علماء روم چه په اصفهان کښې دی هم
ملا پیر محمد صاحب عزت کا او پیر افغان ئې لقب کا میاجي صاحب بعلم اخلاق
کښې یو کتاب کښلی دی چه افضل الطرایق ئې نوم دی او بېا هم کتاب د عقایدو او
اخلاقو بیان کا په بل کتاب هم لرینه چه القرایض في رد الروافض ئې نوم دی او بل

۱ دفن

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانی الطرایق کښی دا حکایت کښلی دی چه زه ی له هغه کتاب دلته ثبت کاندم چه په دی کتاب کښی یادګار وی

## حکایت

شیخ متی چه خلیلی و　　دی له آره لوی ولی و

یو ورځ روان پرلار و　　لوی ښختن په استغفار و

کړه ذکر د غفار　　یو شپه لنو اوزګار

پردی لاروی تیروګتی　　لاری محکی وی په تیتی

دیری ښی راغی رودار　　چه ی صافه کړله لاس

یو دهقان به آبیاری کړه　　شپه په شپه به ی خواری کړه

ده به لید یتوره شپه　　شیخ متی په زیار اخته

لا صفه به بیزار و　　بتوله شپه به هم بیدار و

یو وشپه راته یار سو　　شیخ متی ته په ګفتار سو

ای د خدای رویدار شه کړی　　د ومره زور زحمت پر ځه کړی

ته بادار یی د ویالو　　ته قدوه د صالحانو

شا د دخاوری سر زردی　　د هر چا کحل البصر دی

پیشو ښویی تر بیخواب　　په زحمت په اضطراب

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاکوی دلاری گمتی | پہ دی مخاور وشہ دی گمتی
داسی دوی شیخ متی | دمولا لعشق مستی
پہ خدمت دخلق الله | یو گړی پہ یوہ ساه

تر ہر شہ بہتر دی وروره
زده کړه دا خبره گوره

ذکر د شاعر خوږ گفتار الہیار افریدی عبدالعزیز کاکړ ہسی روایت کا چہ دا شاعر پہ پوری کښی اوسی اوس د تخلو پښتنو کالو پیچر دی دیوان د شعر لری کلامی شیرین دی لکہ عسل ماندی عبدالعزیز کاکړ دغہ غزل را کا پہ دی کتاب کښی ثبت سی

## غزل

چہ ستا پښم کښی بندیوان یم را بہر بہ نشم | د بلیتون او ښی تو یو ھد بی پر بہر بہ نشم
ب دی لتار دعشق لښم کړه چہ زما حال ووینی | شنه بی بر وندعشق دی هیچ پر بہر بہ نشم
مردی پروت یم د گدا بخیر نظر نکوی | کہ مرمہ ہیم بی بیا زیاره ستا نظر بہ نشم
اوردی دمینی راندبل کا سینہ ورپت دکړ مہ | ستا دوصال پہ را او بوسو بہ سوی خیگر بہ نشم
کہ جفا کاندی کہ وفا پروت دی و در تہ بیہ | ستا لہ دلبار خبہ مخ نکړم پہ بل در بہ نشم

الہیار و لہ ودی پہ دلبار نظر دی غواړی یاللی
کہ می ہر څو ربتی شړی از و پہ حذر بہ نشم

ذکر

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ذکر صدر دوران بابوجان بابی

دکرم خان بابی زوی دی چه پر الغز کښې
اوسیدی هغه وقت چه حاجی میرخان علیین مکان لقندهار کښې د ظالمانو لښکر مات کا او
گرگین خان ئی واژه بابوجان بابی ار کلات دیر غښتلی راوستل اولا ماشوری د
قندهار ښار حصار دینو او هغه وقت چه ئی گرگین خان مړ کا نو ئی پر کلات کښې د حاجی میرخان
د نوا حکومت کا هسی وایی محمد کاتب الحروف چه په کال ۱۱۳۴ هجری چه شاه محمود پادشاه
د پادشاه دوران شاه حسین ور زور لښکر وکاوده او اصفهان ته ئی دیر غل غزمیت وکا
بابوجان بابی سره او خپلو غښتلیو ځوانانو چه دری ورځ قندهار هوتک او توخی او ترکی او
غنی الکاخیل راغلل قندهار ته او د شاه محمود سره ولاړل اصفهان ته په جنگو کښې بابوجان
بابی هسی میړانه وکا چه رستم دوران ئی هیر کا بابوجان د میاجی صاحب شاگرد
مرید و او په سنه ۱۱۲۹ هجری ئی په مثنوی د شها او گلان بغه قصه نظم کړه چه
پښتانه ئی نقل کا په مجلسو کښې د اکتاب مقصص العاشقین نومیږی او سفارسمند مشو
ري په دغه کتاب کښې د عشق توصیف کا او هسی وایی

### مثنوی عشق

عشق یو هسی تورپالی دی || چه پر هر ځای ئی بری دی
د عشق اور هسی سوزان دی || چه سوځلی ئی جهان دی
زړه بی عشقه کله زړه دی || چه بی عشقه زړه د مړه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ندی عشق پدیوه رنګ — کله صلح ګهی جنګ
پښتانه کا ندی مثل — چه دی خوږه تر شات عسل
چه بې عشقه سر کړه دی — تش بې مغز یو لاډو دی
زړه بې عشق پکار نه دی — هم هر زړه سزاوار نه دی
چه د عشق و کا خبری — کړی یغوږ به داهر غوری

دیاکا لو عشق سزادی

امانت داد مولا دی

کرد افصح دوران ریدی خان مهمند ریدی خان زوی دی د غیاث خان او د مسعود خان مهمند لمسی دی چه کلی د مهمند ی پیاهد بالاسی غیاث خان د حاجی میرخان علیین مکان همراز او ملګری و او ریدی خان اوس تکړه سړی او د آشنا یانو همباز او د عصار شاعر دی دی پادشاه ظل الله یی کښی عزت کړی او د شوکت او عزت خاوند دی پر آشنا یانو مهربان دی او د کاتب الحروف مخلص دی اشعار ئی خواږه دی او د بلاغت علوم ئی لوستی دی پر فقه او تفسیر او صرف و نحو کښی هم ښه او پوره لوست کړی چه طالبانو ی حل د مشکلاتو و کړی کاریدی خان په

۱۱۳۶ سنه اصفهان ته ورلاړ او هلته ی د شاه محمود سره صحبتونه و کا بیا قندهار ته راغی دیو کتاب ی پشرح د حال او جنګو د حاجی میرخان او شاه محمود و کښلی دا کتاب

شور

(c) ketabton.com: The Digital Library



څلور زره بیتونه دي لومړی دی محمود نامه کله چه ی د پادشاه ظل الله پنځ کښ
ولوسته زر طلا وي صله و مونږ له دی طبع کښی هم جواد بیت پروت دی په سعد
صلدی پیسو څو ورځی پر یارانو او آشنا یانو نثار کړه او ربیدي خان غزل او مثنوی
او رباعی پنځل دیوان کښ لري او محمود نامه ی هم خوږه کتاب دی په اکثر پښتانه
ی پیجلو کښی لولی دګرګین خان ګرجی دوژللو قصه او د اصفهان دفتوح تو نقلوند
لمتول پکښی ستاد هم وایي محمد کاتب الحروف په ماله ربیدي خان هم درخواست وکا
چه په دی کتاب کښی د محمود نامی څخه ډیره برخه ثبت کاندم ربیدي خان هم ما ته
د کتاب یو باب را کا چه دګرګین خان د وژلو قصه ده او هغه ما د لته ولیکل بتوفیق الله تعالی

## مثنوی نقل له محمود نامه څخه دی

### په بیان د وژلو دګرګین خان او مدح وصفت د حاجی میرخان علیین مکان

اوس به وړ ناته حکایت کړم د بنو
خوږه روایت دګرګین خان د وژلو

په میرخان تللی اصفهان ته وو نه
څه ی ملکی د پاک سبحان ته ووند

پاچا ته یی عرض کړ تمول احوال د پښتون
دګرګین ظلم بد احوال د پښتون

پاچا ویل زه نوای کولای چاره
دګرګین خان ظلم ستم دپاره

کله ی معزول کړم قندهار به پرېږدی
جور و ستم او ظلم ښار ته پرېږدی

(c) ketabton.com: The Digital Library



گرگین خو گرگ دی گرگ خو ظلم کوی
وینی تو وینه هم پیو ند خیری

زه هم مخالف یم چه بد تحکم گرگین
نا مسلمان دی ارمنی دی بیدین

نه چه اسلام کی لحاظ پابند گنهیز
نه نصرانی نه له عیسی بیر نید

بیر یم زه چه خدای کری قهر بکاره
د سلطنت بیر نا کوم سی تباه

میرخان ویل ای حسین پاچا وگوره
حال د حاکم او رعایا وگوره

گرگ دا ایله کړ پر رمه سو شبان
جور و ستم کا نه ی بیحد گرگین خان

موږ له طاقت نسته چه کړو بغاوتی
صبر پر ظلم د ظالم ارمنی

دا شلورم واردی راغم سلطان
عرض د ظالم له لاسه کړم سلطان

کډ یا پاچا نکری داد خواهی د مظلوم
ظالم حاکم کا ظلم دیر په محکوم

جور چه د بیرسی سلطنت سی برباد
د ظلم قصر پیښا بی بنیاد

عو بید الملک یبقی مع الکفر ولا یبقی مع الظلم

کافر کولای سلطنت سی مدام
کډ وکړ یاداد نوی پاچا بر پیرانام

مگر ظالم نو نسی کړای سلطنت
خالق رحیم دی ورکوی خلافت

پاچا قد چه زړه ی وی پیهرو دان
د خدای عیال ګڼی پر مخکد انسان

سلطان واوره پښی غوږ داو پنا
مکړه ستم د خلق الله بیهر پاچا

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ستمګارو پای به راشي وي خراب
د ظلم اوري کا پخپله تراب

د مظلوم آه د اسې کاري دي ګوره
چه اوري ئې سخي د ظالم تکوره

ملبې به بلې کا د ظلم پکور
څو له به کاندي بېنوا پړی اور

بیا یې ظالم چه رحم د کا پېڅان
په ظالم خوار نکړي خپل ځان او جهان

سلطان ګوره پر ځان رحم وکړه
خپل کلي کور چه جور مه دوړانغوه

یا پیا قدمي دنیا وکړه میر خان
خو غوږ ئې مه دا اورېده وله ئې ځان

ګرګین ئې پر لېښو قندهار کي ظالم
نیئ کړ دفع لاس دده له عالم

ګرګ ئې شپانه کا چه کړي خوار رعیت
د ګرګ پخپر خپري په ظلم دوحشت

میر خان خو لېږي ولاړ حجاز له چه کړي
رسول د خدای ته پر زاري داد خواهي

داد خواهي د میرخان په حضور د سید الانس والجان

ولاړ ئې د یثرب پیشرب کا فریاد
رسول د خدای ته چه سو قوم برباد

ستا پر امت راغی د ظلم دوران
واوره رسوله ددي قوم فغان

پښتون خو ستا پر نامه ځان کړي فدا
ای خیر الناس دواوره تدي ندا

وترغوره دوی ته د ظلم له لاسه
ګرګین ملنځ د پښتون وباسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تا پیامبر دی کلمه ګوی پښتون          نه بسی بیځکه لتا ندرا ستون

زړګ وژوندون مو د اسلام دپاره          ستا د دربار ستا وسلام دپاره

مدد مو کړه هیر خیرالوری رسول          فخر کونین نورالهدی رسول

اوښکی می څاڅی پر دربار یم ولاړ          قوم مو پا ور د ظلم تولد لتاړ

یو ولد نظر وکړه پرمو به په سود یې          وظالمانو ته تر څو بدیو پیړ

ستا لطف و حسن د عشاق پر جهان          پر خراب زړه دی ستا پیمهر ودان

لدستا نظر نوی خراب مو پښتون          پا ور د ظلم تور کباب مو پښتون

راغلم لدلیری ستا دربار ته نبی          ته می شفیع مه خدای غفار ته نبی

په پر پښتون قوم نزل کا رحمت          کړی ی خوندی ناموس یخپل مرحمت

لاس د ظالمی لګریوان ته لنډ          ویح سی د ظلم دګند و خیرو ده لپ

ست شرعیت سی تبنګ ښمنځ د پښتون          ورک سی بیدا داوکم سی رنځ د پښتون

واسی دی سوال ولاړ د در ته سید          محتاج د تش ولږ نظر ته یمه

د قوم حال کړم در ته عرض یا ادب          ته ی باد ور د کل عجم او عرب

بلید تا ملری پښتون نوا الګر          ته ی ملهم د خوږ ورزړه د پیرهر

وترعوره زمونږ نام وناموس لدبیداد          کړه بی ناموسو ظالمانو بر باد

م

(c) ketabton.com: The Digital Library



سر ئې دا پورته زمونږ حال وګوره | د ظالم ظلم بد احوال وګوره
ندی لتا شرم و حیا ستا ده نبی | نه شرم کا مونږ له عیسی ارمنی

عرض می د حال وکا وتا ته پیشوا
بل څوک مو نشته ده خوا لګر به نیا

خوب لیدل د حاجی میرخان چه د پند طبیعت کښی او زیری د نجات له ظلم

چه میرخان هم عرض کا حال د ظلم | هغه شپه ئې مات شو توره دال د ظلم
میرخان ئې خوب ولید صدیق اکبر | چه ورسره حضرت فاروق و عمر
وی ای مسکین زیری در ته غم ملکوه | قوم د خلاص شو کوره ماتم مکوه
ولا پیدا قوم ته د زیری کړه زر | چه د ظالم شو کم نقصان او ضرر
په پښتون به خدای له ظالم آزاد | نه به سی ننګ او ناموس ئې برباد
خدای به دا قوم کا بیرحم ودان | قوم به ئې وینه مچا به پر جهان
ټول به د خدای به بندګی کوي لوی | ځول بچی ئې کا مدرسه تعلیم ورکوي
کلمه د خدای به وی جاری پا فوا | ور کوی دوی به پردی لاره کی [illegible]
ځوی طره وی د اسلام به بګړی | نه لیبی ورک نوم د دی قوم لښکری

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زیری او ریدل د میرخان او فتوا اخستل له علماو

ار زیری چه واورید میرصیب خان پیغام — خوښ سو د بیخو په بیتخلی کلام

بیا ئې پیدا کړل علما د حرم — مفتي قاضي او هم پېشوا د حرم

حال ئې د ظلم د ګرګین کا بیان — فتوا ئې وغوښته له دوی میرخان

ټول علما د دین فتوا ئې وکړه — هم ئې تحریر پرې انشا ئې وکړه

چه ظالم د ظلم رفع روا — په تیر په وی دی له اسلام سوا

حاجي میرخان راغی وطن ته بیا کال — قوم ئې ولیده ئې ظلم پایمال

په تدبیر کښیوت چه ناموس وساتي — تنګ د قوم کا په تینګه خوندی

مشران ئې ولیدل د قوم لیلا — وودوی ئې وی د حرم ماجرا

دعا او خوب او هم فتوا د عرب — قوم ئې کا د خان د بنو په طلب

ګرګین خبر سو چه میرخان تښکوي — وی کتله چه افغان تشکوی

ظلم ئې د ډیر کا پیر خوارانو د قوم — خان ئې کا ګرځ د غمخوارانو د قوم

سران ئې تر او ستل په صبر و په بند — نافقین ئې کړل په قوم سربند

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مصلحت د میرخان او قرآن کول د قوم او بیا وژل د ګرګین خان

حاجی میرخان وکا تدبیر مصلحت
پښتانه لتول سول په ناموس او په دین

مولو قرآن وکا په خان کاخوندی
له جور و ظلمه د ظالم ارمنی

سید آل ناصر او بابو جان وبابی
یل بادرخان و د بادرو لمسی

میاجی هم راغی د میرخان پکومک
یوسف را لتول کړ له د سیوری هوتک

عزیز لوزری د دلارام پهلوان
ګلخان بابړ د بل و نور بریڅ خان

راغی لفرو د الکو د جلدک
کاوی لواړانو د لښکر و کومک

بل یحیی خان بل ئی زوی محمد خان
لتول سره یو سول په کړی پر ګرګین خان

یونس کاکړ وکا یرغل په ګرګین
پښتنو بوه پر ګرجیانو ناوړین

ګرګین ئی مړ کا لتول کړ جی سوکستان
قوم کا خلاص لظلم و جور رغفار

قندهار و بیو حاجی میر په همت
قوم ی لتول کاورتی کړ نصیحت

په ظالم ومی او ملو موږ سوو آزاد
خالق دی نکا پښتون قوم برباد

پایمالی ظالم دی موږ یی لویکا لښکر
بیا یې په وساتو خانونه له شر

(c) ketabton.com: The Digital Library


صفهان ډک واړ لښکرو د شاه — سبا به راشي پر رګونو سپاه
نه به پښتون پريږدي پر مخ د جهان — ورک به کا نوم ننګه نښان د افغان
دښمن قوي دي راشي کي اتفاق — ځان موچتو کي ليري کاندي نفاق
يقندهار کښ ي راټولکړل خانان — ټول له د قوم اختيار دار مشران
هر قوم ورکړله ځوانان توريالي — ټول وغښتلي ننګيالي جنګيالي
شل زره بچ سول پنځه کي د ښار — ګرده ولاړ و د مير خان پګفتار
